# USE OF POETIC LICENSE IN THE POETRY OF MIRZA KHAN ANSARI

## د مرزا خان انصاري په کلام کښې د ضرورت شعري پکارونه

Dr.Badshah e Room (Ali Khel Dariab)*

**Abstract:**

Aesthetic aspect is given immense care in creation of poetry. A poet, while creating poetry, tries to maintain the holiness of words, as much as possible. Doing so, sometimes he breaks down words when needed or changes their form and attempts to maintain the aesthetic aspect of the poetry. This is the freedom which is called poetic license. The poet considering this ease as his right, deviates from grammar or he changes the words according to his own well. Although some critics regards it as a creative flaw or defect; however, the art of poetry allows the poetic license for poetry and hence the poets take advantage of it in their creations.

Mirza Khan Ansari is the first poet in Pashto who has used poetic license in his poetry. This article sheds light on use of poetic license in the poetry of Mirza khan Ansari.

**Keywords:** Aesthetic, holiness of words, poetic license, creative flaw.

مرزا خان انصاري د پښتو کلاسیک یو پُر ګو شاعر دے. ځوک چې د یوې مودې پورې د پښتو وړومبنے صاحب دیوان شاعر منلے کېدو. خو کله چې د ارزاني خویشکي دیوان لاسو ته راغے ، نو مرزا خان انصاري ته په دغه لحاظ دوئمه نومره ورکړې شوه. په هرطور د مرزا خان انصاري د حېثیت ، قدامت او درنښت پښتو شعري ادب کښې مسلّم دے. په دې چې هغه نه یوازې د خپل فکروفن د پاره په پښتو ژبه کښې خوندې ځانګړنې پکار راویستې دي، بلکې ددغې متعلقه دورې فکري، نظري او ادبي روایات ئې هم د خپلې شاعرۍ برخه ګرځولي دي.

د مرزا خان انصاري شاعري که په موضوعاتي لحاظ هر څو اړخونه لري ولې مونږ ئې په څلور مهمو برخو کښې ویشو، چې د عشق و محبت، اخلاقیات ، تصوف او پښتو موضوعات پکښې ډېر جوت او ښکاره دي. د عشق و محبت په اړه د هغه ژوند شاعري د انسان او انسانیت نه چاپېره چورلي چې د امن ، صلح کل ، بشر دوستۍ او افاقي محبتونو

* Associate Professor/Chairman, Department of Pashto Malakand University Cakadara

خوږې ورې درداني پکښې په نظر راځي. اخلاقيات دده سپېڅلي شاعر د شاعرۍ دوئمه اهمه موضوع ده چې د انفرادي اصلاح نه سربېره پکښې د اجتماعي لارښودنې انواع انواع بحثونه بيامونده شي. دغه شان د تصوف موضوع خو د هغه د کلام روح او خاصه ده ، چې د فن او هنر وجود ئې پرې قائم دے. او په دغه ترڅ کښې ئې د روحاني تطهير په ساز د قال او حال داسې لازواله سندرې شورولې دي، چې سوونه کاله پس نن هم تل تاندې او سدا بهار دي. ددې نه علاوه مرزاخان انصاري په خپله شاعرۍ کښې پښتو د يو سپېڅلي او ټاکلي مقصد د حصول دپاره په شعوري توګه د اظهار ذريعه ګرځولې ده. دا يوه ډېره ګټوره هڅه ده ، چې زما په نزد د مرزا خان انصاري د قامولۍ په عظمت د ګواهۍ دپاره کافي او پوره ده.

د مرزا خان انصاري د شاعرۍ او فکر و نظر په حواله تر دمه ډېر څه وئيلي شوې دي. که يو اړخ ته زمونږ کلاسيکي شاعرانو د هغه د فني ځانګړنو په حقله خپل اعلیٰ او ارفع خيالات څرګند کړي دي. نو بل اړخ ته پښتنو ليکوالو ، عالمانو او محققينو هم په دغه لړ کښې د قدر وړ کار او زيار کېښاسلے دے.

تر کومې چې زما ددې ليکنې علاقه ده ، نو ما د مرزا خان انصاري کلام د ضرورت شعري په اړه سنجولے دے. او کوشش مې کړې دے چې د مرزا خان انصاري د کلام دغه فني او مهم اړخ رابرسېره کړم. ځکه نود هر څه له مخه ضروري ګڼم چې د"" ضرورت شعري "" په حقله د خپلو درنو لوستونکو يادداشت راتازه کړم.

ضرورت شعري يوه ادبي اصطلاح ده. چې په انګريزۍ کښې دې ته د Poetic License نوم اخستلې شي. دا په اصل کښې د لاطينۍ ژبې د دوه ټکو Poeta او Licentia نه جوړ دے. Poeta د جوړونکي يا تخليق کار معنې ورکوي او Licentia د اجازت يا اجازې معنې لري. په دغه معنو د غور کولو نه پس دا خبره مخې ته راځي چې ددې ادبي اصطلاح تر مخه شاعر يا تخليقکار ته ددې خبرې اجازت ورکولے شي چې هغه دې پخپل تخليق کښې د يو خاص اثر پېدا کولو دپاره د ځينو حقائقو يا د ژبې د قواعدو نه انحراف وکړي او ددغې قدغن نه دې ازادي ترلاسه کړي.

ولې دلته دا خبره د يادونې وړ ده چې په شعر کښې وزن او اهنګ يو ډېر مهم او ضروري توکے دے، او هم ددغې د برقرار ساتلو دپاره يو شاعر په مخصوصو حالاتو کښې د ضرورت شعري پکارونه په عمل کښې راولي او دغه د وزن او اهنګ ساتلو مجبوري وي چې په شعر

کښې د ضرورت شعري جواز راپېدا کوي ـ سره ددې چې ځينې پوهان ضرورت شعري د يو شاعر يا تخليق کار فني علت ګڼي ، او دا دهنري کمزورۍ سره تعبيروي ـخو ددغې رائې باوجودد اکثرو ناقدېنو خيال دا دے چې د ضرورت شعري استعمال د يو حد پورې جائز او سم دے، په دې چې هم ددې په ذريعه يو شاعر پخپل کلام کښې په خاص حالاتو کښې اثر انګېزي راپېدا کوي۔او که هغه د

ضرورت شعري نه کار وانخلي نو دا عين ممکن ده چې شاعر ته راغلے خيال به د شعر صورت اختيار نه کړي او داسې به ډېر ارزښتناکه خيالات هډو د شاعر په تصور کښې دفن پاتې شي۔

خو په ضرورت شعري کښې يو شاعر له دې خبرې ته هم پوره پوره پاملرنه پکار ده چې هغه که يو داسې خيال يا نکته د اثر پېدا کولو دپاره وړاندې کوي کومه چې په بله پيرايئ کښې د بيان امکان نه لري او هم ددغې جواز په اساس هغه دا محدوده ازادي اخلي نو هغه له دا ښائي چې ددې رعايت په فيض دې پخپل شعر کښې مطلوبه اثر راښکاره کړي۔او که ددې باوجود هغه په دغه معامله کښې پاتے راغے نو دا بيا ددغې شاعر يا تخليقکار هنري علت ضرور دے او دا د هغه فني کمزوري او خامي ګڼل روا او سم دي -

اردو لغت ئې لغوي مطالب داسې بيانوي "" دشعر د وزن پوره کولو دپاره د لفظ په تلفظ او محاوره کښې ردوبدل کول۔[1]

دبريټېنيکا له رويه:

**Poetic license, the right assumed by poets to alter or invert standard syntax or depart from common diction or pronunciation to comply with the metrical or tonal requirements of their writing. As a general rule, poetry has a carefully controlled verbal structure. The metre of the poem, the pattern of stressed and unstressed syllables, and the sounds and modulations of the words themselves all affect the subtle meanings and feelings that the poet may be trying to convey or evoke. Poets may distort normal prose patterns for the sake of form and therefore assume poetic license; it is solely a matter of aesthetic judgment and sensibility as to whether the alterations enhance or detract from the total effect of the poem".[2]**

ژباړه:شاعران دا خپل حق ګڼي چې هغوي د خپلو تخلیقاتو په لړ کښې دموادو یا غږ غوښتنو دپاره معیاري نحو بدل کړي یا ئې واړوي.یا دعامو ټکویا تلفظ نه انحراف وکړي. د عامې قاعدې له رویه دشاعرۍ دژبې رغونه په یوه محتاطه قابو کښې ساتلې شي. د شعر وزن او بحر ، زور لرونکې او پستې چپې ، غږونه او د ټکو تشکیل دغه ټول هاغه لطیفې معنې او احساسات متاثره کوي ، کوم چې شاعر دبیانولو یا جوتولوکوشش کوي.شاعر د رغونې له خاطره د عام لیک نمونې ورانولې شي.او له دې امله ضرورت شعري خپلولې شي. دا په مکمل ډول دجمالیاتي پربکړې او حساسیت معامله ده،چې ایا دغه بدلونونه دشعر (نظم) ټولیز اثر زیاتوي که کموي۔

دغه شان د ضرورت شعري په حقله ډکشنري ډاټ کام لیکي

**"license or liberty taken by a poet, prose writer, or other artist in deviating from rule, conventional form, logic, or fact, in order to produce a desired effect[3] - "**

ترجمه : یوشاعر، ادیب یا بل فنکار چې دخپلې مرضۍ داثر پېدا کولو دپاره دمروجه قاعدې ،روایتي ساخت، منطق یا حقیقت نه ډډه وکړي۔

**“When a novelist or a poet twists facts, invents words, or disregards grammar rules because it makes for a more satisfying story or a lovelier poem, they use poetic license” [4]-**

ژباړه:"هر کله چې یوناول نګار یا نظم نګار دیوې کوټلې قیصې یا د عشقیه نظم لیکلو دپاره حقیقتونه چقوي ، لفظونه جوړوي یا د ګرائمر په اصولو پښه راکاږي۔نو دې ته ضرورت شعري وائي.

هم دغه مفهوم کېمرج ډکشنري څه په دا ډول بیان کړےدے۔

**"The act by a writer or poet of changing facts or rules to make a story or poem more interesting or effective [5]"-**

ژباړه: هغه عمل د څه په ذریعه چې یو لیکوال یا شاعر دخپلې قیصې یا نظم د زړه راښکونې او اغیزې دپاره حقائق یا قوانین بدلوي ضرورت شعري بللې کېږي۔

ډاکټر ظهیر علي خان د ضرورت شعري د جواز په ترڅ کښې لیکي

"" په اصطلاح کښې ضرورت شعري داسې یو جواز ته وئیلې کېږي د څه تر مخه چې د حسن مضمون او نفس مضمون دپاره د ژبې د بیان او د فن د مروجه اصولو او د ضابطو خلاف ورزي کولې شی، خو دغه خلاف ورزي د حسن بیان او حسن مقصد له رویه جائز وي. ولې د ضرورت شعري جواز هغه وخت پېدا کېږي کله چې ددغه اصولو او ضابطو د خلاف ورزۍ نه څه مهمه یا نوې خبره مخې ته راځي. که داسې نه وي نو بیا د اصولو نه ډډه کول په عیب کښې راځي". [6]

دغه عیب ډاکټر محمد اشرف کمال د شاعرۍ نقص ګڼي لکه چې لیکي:

"د ژبنې قاعدې په خلاف چې د شعر د وزن د بشپړولو دپاره کوم رعایت اخستلې شی ، هغې ته ضرورت شعري وئیلې شي. ځینې وخت د یو لفظ په تلفظ یا املاء کښې د ادلون بدلون د لارې وزن پوره کولې شي. دغه نقص دے". [7]

هم دا رنګې ابواعجازحفیظ صدیقي د ضرورت شعري په حقله خپل خیال څه په دا ډول څرګندوي:

" کله چې شاعر د ژبې د قاعدې په خلاف ورزۍ زمونږ نه د خصوصي رعایت غوښتنه کوي. د مثال په ډول دوزن یا قافیې پکارونې دپاره د یو ټکي یا تلفظ یا املاء کښې څه بدلون راولي، نو دغه هر څه هغه د ضرورت شعري په اړوند کوي". [8]

ددغه ذکر شوؤ معروضاتو په تناظر کښې چې د مرزا خان انصاري په کلام کښې د ضرورت شعري جائزه اخلو نو د دوي په کلام کښې هم دغه رعایت ډېر ځله استعمال شوے دے. د استاد همېش خلیل په زیار چې د مرزا خان انصاري کوم دیوان خپور شوے دے، په دغه دیوان کښې مرزا خان انصاري پخپل کلام کښې د ضرورت شعري په جواز د شپېته واره نه زیات ادلون بدلون راویستې دے. چرته ئې د شعر د وزن او اهنګ د پوره کولو دپاره د لفظونو په تلفظ کښې کمے زیاتې رامخې ته کړې دے او چرته ئې دغه عمل د محاورې سره کړے دے. دغه شان په بعضې ځایونو کښې ئې د مروجه قاعدې نه ډډه کړې ده چې د خپلې مرضۍ اثر پکښې راپېدا کړي او په ځینې ځایونو کښې ئې د معیاري (syntax ) صرف و نحو نه انحراف کړے دے ، ددې نه علاوه ئې په خال خال شعرونو کښې املائي تبدیلۍ هم راویستې دي.

دلته ترې یو څو نمونې ستاسو په درانه خدمت کښې وړاندې کووم:

"د ګمان مورچه دې واخله
د خدای یاد دې مشقلت کا
په خشکۍ او په ترۍ کښې
که په ځای وي یا سیرت کا"[9]

په یوه کښې دویم نشته
نه زیاتې نه کمامت کا
باقي به جاودان شي
چې نزول په قرارت کا"[10]

په دې شعرونو کښې مشقلت د مشغولتیا دپاره، سیرت د سېل ، کمامت د کموالي او قرارت د قرارۍ دپاره وران کړې شوي لفظونه دي.

"که پر نفس اماره دې برے بیاموند
ستا نزدې فتح دغه دے لویه توب"[11]

دغه شعر کښې ئې د لویوالي دپاره لویه توب ټکے دماشومتوب په بڼه وضع کړےدے:

"ځینې ځینې د غفلت په خوب اوده وو
زیاته زیاته د ګمان په مرګ خراپه
د دانا نصیحت هسې رنګ دارو دے
چې ضعیف مزاج ئې وجار ویست له تاپه"[12]

دلته ئې د خراب او تاب په ځای خراپ او تاپ ټکي رواړي دي:

"د خپل یار صفت په کومه ژبه وایم
چې تر واړه ؤ خوږ خوږ نوم ئې شهت
سوزنده ډیوه زما په سر بلېږي
چې په تاؤ ئې ویلي کېږم بهت"[13]

په وړومبي شعر کښې ئې دشهد په ځاے د ضرورت شعري په وجه شهت استعمال کړےدے او په دويم شعر کښې ئې د بُہت بُہت په ځاے بّهّت بّهّت راوړے دے .
دغه شان :

"زه دې هــر څــو پورتـــه بــولم
تــه بتــر درومــے پــه کښــات"[14]

دا شعر چې د کوم غزل نه اخستے شوی دے د هغې قافيې سومناته ، زياته ، ميراته ، ذاته او زکاته دي خو مرزا خان انصاري پکښې د ښکته دپاره کښاته ټکے دشعري مجبورۍ له سوبه رادننه کړےدے.

دااشعار ئې هم ولولئ:

"کــه هــر څــو ئــې تــوده وے بېلــوده نــه شــي
د پنــدار لينــده بــې غــوړه ده بــې مــوتې"[15]

نـــه ئـــې ولـــي نـــه ئـــې پـــاښې نـــه گلونـــه
دغـــه هســـې نـــه مېـــوه لـــري نـــه ســـور"[16]

دا شـــــيرين اشـــــنا دســـــر داوڼ وه
چـــې پـــه مـــا بانـــدې ډيـــوه دده ســـيور"[17]

پــه دنيــا پســې درومــے قــرار گــاه بــه ئــې نــه مــومې
کــه تــه نمــر پــه مــخ ونيسې درپسې درومــي ســيور"[18]

دې شعرونو کښې د بې موتې ټکے په بې موتَ او د سيورې لفظ په سيورَ بدل کړے شوے دے:

"پـــه غفلـــت دې خـــاطر څرنگـــه ځنگـــل شـــه
شـــــيطاني وسوســـــه ســـــپېره گنـــــه رڅ"[19]

تـــل تـــر تلـــه بـــه خـــلاص نـــه شـــے لـــه عذابـــه
چـــې ســـينه د مظلومـــانو ځينـــې خـــوړ"[20]

وړومبي شعر کښې د ريچې اسم په رچَ بدل کړے شوےدے. او دويم شعر کښې د ''خوږ وي'' ټکے مختصر کړے شوے دے او په خوږ اړولې شوے دے.

دا لاندينې شعرونه ئې هم وګورئ.

نـــن مـــې اوليـــده ولاړه مجبوبـــا پـــه ځـــو باريـــکَ
په اخلاص ئې خپسر جوړ که اوس و جنګ ته تياري کَ"[21]

"زه کـــه يـــو ځلـــې اخـــلاص و تاتـــه درم
دا اخـــلاص بـــه تـــر بـــاوره پـــورې ورم"[22]

يـــو عجـب خـــال دې د ورځيـــو پـــه پېونـــدر
بيـــا پـــه ځـــو دې وعاشـــق وتـــه څرګنـــدر
پـــه رينښـــتيا عاشـق ئـې بند كـړ نـه خلاصېږي
تـــورې زلفـــې دې د چـــا پـــر مـــخ کمنـــدر
مــــــــــرزا مدحـــــــــه د کامـــــــــل کـــا
پـــــه هـــر دم مـــې د الله پـــه لـــور چلنـــدر"[23]

دې پورته شعرونو کښې درم د دروړم ، ورم د وروړم ، پېوندرد پېوند ، څرګندر د څرګند کمندر د کمند او چلندر د چلن دپاره بدل کړې شوي ټکي دي. سره ددې چې که دغه ذکر شوي ټکي په خپله اصلي بڼه کښې ليکلې شوي وو نو هم ئې په شعر څه خاص اثر نه پرېوتو ، ځکه نو دلته دضرورت نه بغېر مرزا خان انصاري ددغه اسانۍ نه کار اخستےدے.

"لرغـــونے نـــه ئـــې اوســـنِ
هـــم تـــازه ئـــې هـــم ريمـــنِ "[24]

ددے شعرپه وړومبۍ مصرعه کښې مرزا خان انصاري د اوسني يعني ددے وخت يا ددې زمانې دپاره په قافيه کښې راوړے دے ولې شعر کښې بيا هم سکته ده ، دلته هم دضرورت شعري د استعمال هغه شان نتيجه په نظر نه راځي څنګه چې پکار وه.

هم دا رنګې د مرزا خان انصاري دا لاندې شعرونه هم ښکاره نمونې دي.

"نتيجــه بــه پښـــېمانۍ ځينـــې بيـــامومي
کــه پــه مينــه هــم نشــين شــه لــه بــدانَ"[25]

"پـــه جهـــان د کـــم دليـــل د تپــه ډېـــر
چې د زړه پـه حـال هـم ګونـګ دے هـم کـونِ"[26]

"انديښـــــنه و حيـــاتي ئـــې واســـطه دي
چې لـه مرګـه پخـوا ومـري څـه ئې بهـو دے"[27]

"لـه هسې حالـه خبـر ګـران معنـيٰ څـوک وينـي
آسـانې چـرې چـې د مرزا پـه ژب وئيــل شـي"[28]

"يـــو زمـــان مـــې نـــه هيرېـــږې
زرغونــــــه زمــــا پــــه دلــــــے"[29]

دې لوړوشعرونو کښې بدانَ د بدانو د پاره کونِ د کونړ دپاره بهو د بهاؤ يعني قېمت دپاره ژب د ژبې دپاره اودلے د دل دپاره دضرورت تحت وران کړې شوي لفظونه دي ـ په مجموعي ددغه ټولوشعرونو لوستو نه به لوستونکو ته اندازه لګيدلې وي چې مرزا خان انصاري چې پخپل کلام کښې په کوم کوم ځاے کښې د ضرورت شعري نه کار اخستے دے ، نو تر ډېره حده ئې هلته د متعلقه مقصد په اړه په ډکه منګول وينو ، البته څه ځايونه پکښې داسې هم شته چې هلته د ښاغلي شاعر د ضرورت شعري د استعمال واضحه نتيجې په نظر نه راځي ـ خو په مجموعي توګه مرزا خان انصاري په خپل کلام کښې ددې رعايت نه په خلاص مټ ګټه پورته کړې ده او په بېلا بېلو خيالونو کښې ئې دهر هغه اثر راپېدا کولو هڅه کړې ده کوم چې ده غوښتل، دده د چرت مطابق وو او په وجدان ئې ښه لګيده ـ

## References:

I: http://urdulughat.info/words/37005

Ii: https://www.britannica.com › Literature › Poetry

iii: https://www.dictionary.com/browse/effect

iv: https://www.vocabulary.com/dictionary/poetic%20license

v: https://dictionary.cambridge.org/dictionary/english/poetic-licence

Vi: khan, Zahir Ali, Shaeri ky Tanqeedi istilahat, Urdu Ph.D ( Nachapa Maqala), 270 Makh

Vii: Kamal, Muhammad Ashraf, Dr, Istilahat ( Adabi, Tahqeeqi, laisani), Book Time Karachi, 2017, dath Makh

Viii: Sadeeqi, Abul Ijaz Hafeez, Kashaaf Tanqeedi Istilahat, Muqtadira Qumi zaban Islamabad , September 1985, 117 makh

iX: Hamaish Khalil, Dewan Mirza khan Ansari , Darutasneef Paikhawar, 1959, 11 makh

X: Humdagha 13 makh

Xi: Humdagha 16 makh

Xii: Humdagha 21 makh

Xiii: Humdagha 22 makh

Xiv: Humdagha 26 makh

Xv: Humdagha 30 makh

Xvi: Humdagha 49 makh

Xvii: Humdagha 63 makh

Xviii: Humdagha 64 makh

Xix: Humdagha 35 makh

Xx: Humdagha 80 makh

Xxi: Humdagha 124 makh

Xxii: Humdagha 140 makh

Xxiii: Humdagha 232 makh

Xxiv: Humdagha 163 makh

Xxv: Humdagha 165 makh

Xxvi: Humdagha 174 makh

Xxvii: Humdagha 215 makh

Xxviii: Humdagha 201 makh

Xix: Humdagha 207 makh